WORLD BANK GROUP

# اعلامیه خبری

## د سوداګرۍ د پرمخ بيولو وروستی راپور: د آسیا د جنوب هیوادو کی د سوداګرۍ د اصلاحی فعالیتونو چټکتیا

**د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۲۷ مه واشنګټن:** د سوداګرۍ د پرمختیا د ارزیابی په هکله د نړیوال بانک کلنی څیړنیز راپور ښیی، چی د آسیا جنوب کی د سوداګرۍ او کاروبارد چاپیریال د سمون او ښه کولو په موخه هڅی په تیر کال کی چټکی شوی دی. **په ۲۰۱۶ م. کال کی د سوداګرۍ د پرمخ بيولو راپور:** د مقرراتو د اغیزمنتوب او کیفیت د ارزونی راپور چی نن خپور شو ، ښکاره کوی، چی د سیمی په اتو هیوادو کی شپږو هیوادونو نهه اصلاحی مقررات په تیر کال کی ،په سیمه کی د تیر کال د څلورو هیوادو د شپږو اصلاحی مقرراتو په پرتله تطبیق کړي دی.

هند، د سیمی لوی اقتصاد چی په نړیواله رتبه بندی کی یی ۱۳۰ ځای نیولی دی، په تیر کال کی یی دوه اصلاحی مقررات تطبیق کړی دی. د بیلګی په توګه دغه هیواد د سوداګرۍ د پیل کولو په برخه کی، د پانګونی د پیل حد اقل شرایط او د سوداګریزو فعالیتونو د پیل کولو لپاره د تصدیق لیک د ورکولو حد اقل شرط له منځه وړی. دغه ټکی د پام وړ آسیانتیا رامنځته کړی.

د مالدیف له هیواد څخه پرته همداوس د آسیا جنوب ټولو هیوادنو د اقل حد پانګی شرط له منځه وړی دی، چی دغی خبری د نوی سوداګرۍ او کاروبار د پیل کولو په لاره کی لګښت کم کړی دی. بوتان او سریلانکا په تیر کال کی هر یوه دوه دوه مقررات تطبیق کړی دی. دا په داسی حال کی چی افغانستان، بنګلدیش او مالدیف هر یوه یواځی یو ه یوه اصلاحی مقرره تطبیق کړی ده. د تجارت او کاروبار د پیل په برخه کی تر ټولو زیات اصلاحات او سمون، د بریښنا د لګښت او مالیاتو په ورکړه کی دی، دا ښکاره کوی، چی هره یوه کی دوه اصلاحات راغلی دی. د بهرنۍ سوداګرۍ او د قراردادونو د اجرا او د افلاس (په سوداګرۍ کی د ماتی یا د یووالی کیدو) په برخه کی د اقلیت پانګه اچوونکو څخه د ملاتړ په برخه کی کوم اصلاحات نه دی راغلی.

دغه موضوع **د سوداګرۍ د پرمخ بيولو د پروژ ی مدير ريتا رامالهو** څرګنده کړه او ويی ویل چی: *"په دی وروستیو کلونو کی د آسیا جنوب هیوادونو اقتصاد د قوانینو او مقرراتو د سمون له لاری ښه شوی او د پانګونی چاپیریال غوره او کورنیو او بهرنیو پانګه اچوونکو ته لاره هواره شوی او دا جریان په دوامداره توګه د پرمختګ په حال کی ده . دغو موخو ته د رسیدو په خاطر د سیمی هیوادونه کولای شی چی د شغل موندولو پروګرامونه خپل ځوان نفوس ته چټک کړی."*

په منځنۍ ډول سوداګري او کاروبار د پیل په برخه کی د سیمی د هیوادونو په اقتصاد کی (په نړۍ کی د دغی سیمی د هیوادونو ځای په ۹۶ ردیف کی دی) او د اقلیت پانګه اچوونکو ملاتړ (په دی برخه کی د دی سیمی د هیوادنو ځای ۸۳ دی) په ډیر ښه حالت کی دی. په دویم شاخص کې هند د نړۍ د لسو ښه اقتصادو په کتار کې اتم ځای لری.

د سیمی د هیوادونو نیمګړتیا د قراردونو په اجرا او د ملکیتونو د ثبت په برخه کی ده. د بیلګی په توګه په منځنۍ توګه ۱۰۷۷ ورځی په کاردی تر څو د سوداګریزو محکمو له لیاری یوه تجارتی دعوا حل شی. د سوداګرۍ د پرمخ بيولو راپور کی د نړۍ په کچه ۲۲ هیوادونه ښودل شوی چی په هغو کی د یوی دعوا د حل موده له ۱۰۰۰ ورځو زیاته وی چی په دی ډله کی یی څلور هیوادونه د آسیا په جنوب کی دی. په دی هیوادو کی افغانستان بنګله دیش، هند او سریلانکا راځی . له دی پرته په منځنۍ توګه ۹۸ ورځی په کار دی تر څو د سیمی کاروباریان وکولای شی چی خپلی شتمنۍ ثبت کړی، چی دغه مسئله د نړۍ د منځنۍ رقم دوه چنده ده.

د سوداګرۍ د پرمخ بيولو سږنۍ راپور د مقرراتو د کیفیت د ارزونی د معیارونو د ښه کولو او د سوداګرۍ د سازماندهی د لوړتیا په برخه کی یوه دوه کلنه هڅه ده، چی په دی توګه د سیمی د هیوادونو د کاروبارونو په برخه کی موجود واقعیتونه ډیر ښه څرګندوی.
د پنځه نورو شاخصونو په هکله چی په دغه راپور کی یی د بدلون شاهد یاستو، ویل کیږی، چی د اصلاحاتو د راوستو ظرفیت لری. دغه شاخصونه دا دی : د جواز د ورکولو طرزالعمل ، د بریښنا د ترلاسه کولو آسانتیا ، د قراردونو اجرأ، د ملکیت ثبت او بهرنۍ کاروبارونه، د بیلګې په توګه د بریښنا د ترلاسه کولو د آسانتیا په برخه کی د سیمی کاروباریان په منځنۍ توګه په کال کی له ۲۰۰ ځله څخه زیات د بریښنا پرچاوی سره مخامخ کیږی، چی دغه شمیر په ټوله نړۍ کی د بریښنا د پرچاوی زیاته اندازه ده.

د جنوبی آسیا ښه اقتصاد د بوتان دی چی په نړیواله کچه په ۷۱ برید کی ځای لری ورپسی نیپال دی چی د نړۍ په کچه ۹۹ برید ته رسیدلی ) د سیمی نور لوی اقتصادونه دا دی: بنګله دیش (۱۷۴ برید کی ) پاکستان (۱۳۸) او سریلانکا (۱۰۷) ځای لری.
دا راپور او د هغه اسناد په بشپړ ډول په www.doingbusiness.org ویبپاڼه کی لیدلای شی.

**اړیکی:**
په واشنګتن کی: اینديرا چاند ichand@worldbank.org
تلویزیون /خبری اژانسونه: مهرین ارشد شیخ msheikh1@worldbankgroup.org